# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ خلورمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۴مه | ۶۳۴مه ګڼه


## څېره

۴ مخ




### ژاک درېدا

ژاک درېدا فرانسوي لیکوال، فیلسوف او ادبي نقاد و. هغه د وخت په حاکم ادبي وضعیت او فلسفه نیوکه کولې. هغه نیوکه یوازې د اصلاح پا خاطر کوله او ښې بدیلې لارې یې وړاندې کولې.

# د مرستو د کمېدو خطر او جنیوا کنفرانس؛

## ولسمشر غني: موږ له نړیوالو خیرات نه، بلکې پراخه همکاري او پیاوړې اړیکې غواړو



۳

### کرنې وزارت: په دایکنډي کې د ۱۸ سړو خونو د جوړولو چارې بشپړې شوې دي



کرنې وزارت وایي چې په دایکنډي ولایت کې د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژې په اډانه کې د مڼو ساتنې په پار د ۲۱ صفر انرژۍ سړو خونو له ډلې تر دې دمه د ۱۸ هغو رغنیزې چارې بشپړې شوې دي.

د یاد وزارت په خبره، د درې نورو هغو چارې نږدې ۷۰ سلنه بشپړ شوي دي. د دغو سړو خونو د جوړولو ټولیز لګښت د ښوالو له ونډې پرته نږدې ۵۰ میلیونه افغانۍ دی چې د حکومت له خوا ورکول شوې دي. د سرچینې په خبره، یادې سړې خونې هر یوه یې له ۲۰ تر ۲۵ ټنو مڼو د ساتنې وړتیا لري. د یادونې ده چې تر بادامو وروسته مڼې د دایکنډي د ښوالۍ تر ټولو مهم محصول دی، چې په پراخه کچه د دغه ولایت په ټولو ۱۰ ولسوالیو کې تولیدېږي. په یاد ولایت کې د مڼو نږدې پنځه زره جریبه ښونه دي، چې روان کال له دغو ښونو ۳۵ زره ټنه مڼې راټولې شوې دي.


د جینوا کنفرانس؛ بدلونونه او مهم پیغامونه — ۲ مخ

د چین د وارداتو نړیوال نندارتون د فرصتونو ډګر — ۲ مخ

د افغانستان د برېښنایي او مخابراتي سکتورونو رېګولېشن؛ یوه پرتله — ۳ مخ


### راپورونه: په افغانستان کې پر جنګي جرمونو تورنو نهو استرالیايي سرتېرو ځان وژنه کړې

د استرالیايي ځواکونو له لوري په قصدي توګه د ملکي افغانانو د وژنې په اړه د راپورونو تر خپرېدو وروسته، نهو استرالیايي پوځیانو ځان وژنه کړې ده.

ډېلي مېل نشریه وایي، په دغو پوځیانو کې یوه ښځه او اته نارینه شامل دي. دغه سرتېري د هغو ۳۹ افغان ملکیانو په وژلو کې ښکېل وو چې په دې وروستیو کې یې راپورونه خپاره شوي او دوسیې یې د استرالیا د حکومت له لوري څېړل کېږي. ډېلي مېل وایي چې دغو سرتېرو په تېرو دریو اونیو کې ځان وژنه کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د استرالیا حکومت هغه راپورونه تایید کړل چې ځواکونو یې له ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۶ ز کلونو پورې په افغانستان کې د خپل ماموریت پر مهال ملکي افغانان په قصدي توګه وژلي دي.

په ورته مهال د استرالیايي ځواکونو دغو جنګي جرمونو پر افغانستان سربېره په نړیواله کچه د بشري حقونو د مدافعو بنسټونو غبرګونونه راپارولي دي. دوی د دغو جنایتونو د غندنې ترڅنګ د استرالیا له حکومت غوښتي چې په اړه دې بې پرې څېړنې وکړي او عاملینو ته یې دې سخته سزا ورکړل شي. بلخوا د استرالیا پوځ هم ویلي چې دا ټولې قضیې به څېړل کېږي او عاملینو ته به یې سزا ورکول کېږي.

### د ژغورنې نړیواله ډله: نړیواله ټولنه دې په افغانستان کې د سولې لپاره پر ښکېلو خواوو فشارونه ډېر کړي



۵ مخ

### منابع: رئیس جمهور با اصول پذیرفته شده در دوحه مخالفت دارد



در حالی که منابعی از شکستن بن بست برای آغاز مذاکرات دوحه خبر می دهند اما این منابع تأکید می ورزند که اصول پذیرفته شده برای آغاز این مذاکرات با مخالفت های رئیس جمهورغنی رو برو شده است.

به گفته منابعی در قطر، هیئت های مذاکره کننده دو طرف توافق کرده اند که توافقنامه صلح میان امریکا و طالبان موضع گیری های سازمان ملل در باره صلح افغانستان و اراده شهروندان افغانستان را اساس مذاکرات صلح قرار دهند.

از نزدیک به دو نیم ماه، پیشنهاد طالبان برای اساس قرار گرفتن توافق نامه صلح میان امریکا و گروه طالبان، بن بستی را در برابر آغاز مذاکرات صلح افغانستان به میان آورده بود، اما منابعی در قطر می گویند که این بنست چند روز پیش شکسته شد و دو طرف برای آغاز این گفتگوها در کنار اساس قرار گرفتن توافق امریکا با طالبان توافق کرده اند که موضع گیری های سازمان ملل متحد در باره صلح افغانستان و اراده شهروندان افغانستان نیز اساس این مذاکرات قرار بگیرند - توافقی که به باور برخی از منابع، برخلاف خواست رئیس جمهور غنی است.

سید اسحاق گیلانی، رهبر نهضت همبستگی ملی افغانستان، گفت: «فکر می کنم که توافق نکردن بخاطر صلح، حکومت را پیش مردم بیشتر ملامت می سازد و یک مقدار وجاهت که پیش مردم داشت آن را هم از دست می دهد.»




سرلیکنه

## د جینوا کنفرانس؛ بدلونونه او مهم پیغامونه

له افغانستان سره د مرستو لپاره د مرستندویانو کنفرانس جینوا پرون پیل شو چې پکې بېلابېلو ویناوالو د سولې پر پروسه، بشري حقونو، د افغانستان پر راتلونکي او نورو مسایلو خبرې وکړې. په دې کنفرانس کې به مرستندویان له افغانستان سره د مرستو اعلان وکړي. د افغانستان حکومت د څه باندې څلورو میلیاردو ډالرو غوښتنه کوي، خو ویل کېږي چې مرستې به د افغان حکومت له غوښتنې کمې وي.

له افغانستان سره د مرستندویانو کنفرانس په هرو څلورو کلونو کې یو ځل جوړېږي. تېر کنفرانس په ۲۰۱۶ کال کې جوړ شوی و چې پکې له افغانستان سره د څه باندې ۱۵ میلیاردو ډالرو مرستې ژمنه وشوه او تر هغه وړاندې کنفرانس په ۲۰۱۲ کال کې په توکیو کې جوړ شوی و چې له افغانستان سره پکې د څه باندې ۱۸ میلیاردو ډالرو مرستې ژمنه شوې وه. دا ځل کنفرانس له تېرو کنفرانسونو سره درې اساسي توپیرونه لري. لومړی دا چې د مرستو ژمنې به د څلورو کلونو پر ځای د یو کال لپاره وي. دویم دا چې مرستې به کمې شي او د افغانستان د حکومت لخوا د څلورو میلیاردو ډالرو د مرستې غوښتنه به ونه منل شي. درېیم دا چې مرستې له سختو شرایطو سره تړل شوې چې مهم پکې د سولې په برخه کې پرمختګ او سراسري اوربند دی. له همدې امله دا کنفرانس له پخوانیو هغو سره ډېر توپیر لري.

دا کنفرانس په داسې حال کې کېږي چې د افغانستان د سولې پروسه روانه ده او که بریالۍ شي ښایي چې یو کال وروسته په افغانستان کې بل حکومت وي. ښکاري چې مرستندویان هم همداسې فکر کوي، ځکه خو د مرستو موده یو کال ټاکل کېږي. له بله اړخه داسې ښکاري چې د سولې د پروسې بریالي کول هم د نړیوالو غوښتنه ده، نو ځکه یې د سولې د پروسې په برخه کې پرمختګ او سراسري اوربند د شرطونو په توګه وړاندې کړي دي. دا هغه څه دي چې حکومتي اړخ به اړ کړي چې د سولې په پروسه کې له سختو شرایطو، سرو کرښو او هغو دریځونو تېر شي چې د سولې په برخه کې خنډونه جوړوي. له همدې امله دا کنفرانس به مخامخ د سولې په برخه کې پر حکومت فشار راوړي.

د جینوا کنفرانس زموږ لپاره څو اساسي پیغامونه لري چې پکار ده جدي یې واخلو. لومړی دا چې نړیوال نه غواړي له افغانستان سره دوامداره مرسته وکړي، نو ځکه موږ باید خپله ستونزه په خپله حل کړو او نور پر نړیوالو تکیه ونه کړو. دویم دا چې نړیوال په افغانستان کې د جګړې دوام نه غواړي، نو ځکه سوله د مرستو لپاره د شرط په توګه یادوي. هغوی چې فکر کوي نړیوال به ورسره تل په جګړه کې مرسته کوي، باید درک کړي چې نور یې ملګري ورسره په جګړه کې مرسته نه کوي او هغوی هم د جګړې پر ځای سولې ته ترجیح ورکوي، نو ځکه دوی هم باید پر سوله ټینګار وکړي. درېیم مهم او اساسي پیغام دا دی چې د نورو مرستو تل مشروطې وي، زموږ لاسونه او پښې راتړي، نو ځکه موږ باید خپلې ستونزې حل کړو. موږ ته پکار ده چې پر سوله ټینګار وکړو. د جګړې له ختم وروسته او په سوله کې به نه موږ د نورو دا ډول مرستو ته اړتیا ولرو او نه به هم اړ وو چې د هغوی هر ډول شرایط ومنو. له همدې امله د سولې لاره د عزت لاره ده، د سوالګرۍ او د نورو له شرطونو د خلاصون لاره ده او پکار ده چې موږ همدا لاره غوره کړو.

# د چین د وارداتو نړیوال ندارتون د فرصتونو ډګر



نقیب الله مل

د چین د درېیمې دورې د وارداتو نړیوال شپږ ورځنی ندارتون د نومبر له ۴مې تر ۱۰مې د چین په لوی اقتصادي مرکز کې د شانګهای په ښار کې تر سره شو.

د چین د وارداتو نړیوال ندارتون تېرې دوې دورې هغه چې د ډېرو فرصتونو له ټولګو سره مل وې، د دې لړۍ بنسټ یې ټینګ او دوام ته یې لاره جوړه او پرانیسته. هغه چې د سوداګریزو اړیکو د فرصتونو په رامنځ ته کولو کې یې ونډه تر ډېره ارزښتناکه ده.

د چین د وارداتو نړیوال ندارتون درېیمه دوره د چین د دولت رییس شي جین پینګ او د نړۍ د ځینو مشرانو په انلاین ګډون او ویډیویي ویناوو یې پرانیستنه وشوه، دا ټولشموله فرصت او د چین نوښت یې د قدر وړ وباله او ویې ستایه چې درېیم ځل د وارداتو نړیوال ندارتون فرصت یې برابر کړی دی. په داسې حال کې چې د کرونا وبا له امله د نړۍ راشه درشه او راکړې ورکړې کمې یا هم په ټپه درېدلې دي، د تېرو دېرشو کلونو په ترڅ کې لومړی ځل داسې یو حالت رامنځ ته شوی دی چې اقتصادونه پرله پسې مخ په ځوړ روان او د شا تګ په حال کې دي، وزګارتیاوې او د کارونو کمښت اوج ته رسېدلی دی، د ملګرو ملتونو د پرمختګ پلان هغه موخه چې تر ۲۰۳۰ کال پورې د فقر او بېوزلۍ نسبي له منځه وړل دي، له ننګونو سره مخ کړې ده، ښایي په نړۍ کې د فقر او بېوزلۍ ستونزه بیا هم پاتې او تر نامعلومې مودې دوام وکړي.

د چین د وارداتو نړیوال ندارتون فوق العاده نوښت د فلج شوو اقتصادونو او تولیدي سکتورونو ته د دویم ځل ساه ورکونې لپاره طلایي موقع ده او د فابریکو ولاړو څرخونو ته دویم ځل په حرکت د راوستنې فرصت دی.

د ندارتون په شپږ ورځنۍ موده کې د ډېرو هېوادونو، تصدیو او د سوداګرو راټولېدنه دا پخپله لویه لاسته راوړنه ده، دا چې په څنګ کې یې سلګونو سوداګریزو معاملو ته فرصت برابر او رامنځ ته شو چې ارزښت یې څه باندې ۷۲ میلیارده او ۶۲۰ میلیونه ډالره دی او د خوشبینۍ او باور وړ کارنامه ده.

د وارداتو نړیوال ندارتون په نړۍ کې د وارداتو په برخه کې د هغو پټو او ناڅرګندو وړتیاوو په ګوته او رابرسېره کولو لپاره ګټور فرصت دی کوم چې له ګټې لري، محروم او بې برخې پاتې دي، د همدې لړۍ دوام به په راتلونکي کې داسې نورې پټې زیاتې وړتیاوې رابرسېره او را څرګندې کړي، چې په کار اچونه او د وړاندې تګ لارې هوارېدل یې کولی شي نوي اقتصادونه په حرکت راولي. که څه هم د کرونا وبا په خپلو منفي تاثیراتو کې هېڅ کمی او ځنډ نه دی کړی، سره له دې بیا هم د سږني ندارتون پیمانې د نړیوالتوب او معیاریتوب د بازارموندنې یوه غوره نمونه ټولو ته وړاندې او وښودله. د تېرو دوو دورو په پرتله یې په اډانه کې د سلګونو مشهورو بهرنیو کمپنیو تولیداتو ځای درلود او یوازې د نوې ټکنالوژۍ ۴۱۱ قلمه تازه تولید شوو توکو نمونې لومړی ځل په عام محضر او ډګر کې وړاندې شوې دي. دا پر ندارتون د باور پوخوالي له څرګندو نښو ده، هغه نظریه چې د اقتصادي چارو او اړیکو محدودیت غواړي ناکامه کړي له منځه تللو په حال کې ده.

له هغه وخته چې د چین د دولت رییس د وارداتو نړیوال ندارتون وړاندیز د یو کمربند او یوې لارې د نړیوالو همکاریو د سرمشریزې ناستې په بهیر کې مطرح کړ، د اصلاحاتو او د ورخلاصون بهیر نوې بڼه او لار نقشه ورسره جوخته وړاندې شوې ده. په دې لړ کې ټول هغه پروګرامونه چې طرحه او ټاکل شوي دي، په ښه توګه له یو بل سره تړلي او پېیلي دي. په دې ترتیب د بې شمېره فرصتونو پراخه ټولګه رامنځ ته شوې ده. د اقتصادونو تر منځ د ګډو همکاریو ټکو د رامنځ ته کولو، پیوستون او نږدېوالي روحیه یې رامنځ ته کړې او پاللې ده.

په ۲۰۱۹ کال کې د چین د کورني تولید په ارزښت کې د مصرف ونډه ۵۷ اعشاریه ۸ وه، دا د دې ښکارندویي کوي چې چین اوس هغې سطحې ته رسېدلی دی چې د مصرف او تقاضا اندازه پکې په چټکۍ د لوړېدو په حال کې ده.

په چین کې د مصرف له پورتنۍ یادې شوې اندازې پوهېږو په راتلونکو لسو کلونو کې ښو او د لوړ کیفیت تولیداتو ته د وګړو د تقاضا ارزښت به ۲۲ زرو میلیاردو امریکایي ډالرو ته لوړ شي. د چین لوی بازار یو میلیارد او څلور میلیونه فعال مصرفوونکي لري، که له دې برخې سره د متوسطې سویې عایداتو لرونکي څلور سوه میلیونه هم جمع او پرې ور زیات شي، دا په نړۍ کې تر ټولو لوی پراخ مصرفوونکی بازار او ځای دی چې حتماً د نړیوالو شرکتونو او سوداګرو، تولیدي کمپنیو، تصدیو لېوالتیا او توجه وړ به پاتې کېږي. د شانګهای په نړیوال ندارتون کې د ډېرو کمپنیو ګډون او لېوالتیا دغسې بازارونو ته د ځان رسولو لپاره ګټور او مناسب فرصت دی.

د مصرف دغه لوی بازار به نه یوازې د پرمختګ څرخ په تېزوالي تاثیرات ولري، تر څنګ به یې د نړیوالو اړیکو نوي چینلونه هم رامنځ ته او فعاله کړي. داسې ښکاري هغه اټکل او ګومان رښتیا کېدونکی دی چې د اقتصاد، تولید او ثروت لپاره شرایط په اسیا کې د مساعدېدو په حال کې دي. له نښو نښانو ښکاري چې د اسیا ختیځې سیمې د داسې یوې اقتصادي حلقې او مرکز د جوړېدو لپاره ورو ورو د اماده کېدو او غوړېدو په حال کې دي.

د کرونا ناڅاپي وبا د نړۍ په لر او بر کې پیاوړي اقتصادونه لړزولي دي او د بحران او د بې ثباتۍ له سخت وضعیت سره یې مخ کړي دي، په داسې یو حالت کې د شانګهای د وارداتو نړیوال ندارتون تر سره کېدنه د کمپنیو، تصدیو او سوداګرو څخه د ملاتړ او د روحیې ورکونې په مانا دی. په دې توګه یې پر اقتصادونو باندې د فشار له کمښت سره مرسته کړې ده، دا اقتصادي دوران ته د خوځښت ورکولو لپاره د ډاډ شنه اشاره ده، کوم چې د داسې ندارتونونو تر سره کول یوه اړتیا ده او هم اړین دي.

لکه څرنګه چې معلومه ده، سږ کال د کرونا ویروس له امله د هېڅ ځای حالت عادي نه دی پاتې شوی، د دې پېچلي ویروس د خپرېدو وېره لا هم هر وخت او هر ځای شته، د شانګهای د درېیمې دورې وارداتو نړیوال ندارتون پر وړاندې د ستونزو کمی نه و، د کرونا مخنیوی، د خطر لرې کول، د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د تولیداتو او د ګډونوالو ډاډمن لېږد یوازې د ځانګړو تدابیرو په مټ ممکن کړل او هم د دې پروګرام په اغېزمنتیا او بریالۍ تر سره کونه کې د مسوولینو، کارکوونکو وړتیا، پراخه حوصله او زغم هم د یادونې مهم رول او ونډه درلوده.

په داسې حال کې چې د کرونا وبا حملې سختې د انتهایي زور په حال کې دي او د ځینو د مخنیوي هغه لارې چارې ماتې او له ننګونو سره مخ شوې دي. د مړینې او اخته کېدنې په ارقامو کې ورځ تر بلې زیاتوالی راځي او د خطرناک تصویر ښودنه کوي. په داسې یو وخیم حال کې له مهالوېش سره سم د ندارتون د چمتووالي کارونه پرته له ځنډه په عادي توګه تر سره کول، له پلان او په ټاکلي وخت د ندارتون صحنې د حضوري او فزیکي ننداري لپاره اماده کول، په انلاین توګه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مینه‌والو شرکتونو او د مشتریانو ګډون ته د زمینې مساعدول بل نوی عالي ابتکار و. په دې توګه ډېرو هغو شرکتونو چې تمه او انتظار درلود، د انلاین چوپړتیاوو کړکۍ یې فعاله او پرانیستې وه.

د چین هڅو او هلو ځلو نه یوازې د وبا د مخنیوي او کنټرول په برخه کې د خپل توان او د استقامت ښه ښودنه وکړه، بلکې په دې توګه یې د وبا د مخنیوي له منځه وړلو په اړه د نړۍ باور او روحیه پیاوړې کړې ده. په عین حال کې یې د هېوادونو تر منځ سوداګریزې همکارۍ په حرکت او خوځښت راوستې دي. د نړیوال اقتصاد د احیا بیا ځلې رغونې په پاره فرصت جوړ او رامنځ ته کړی دی.

چین د نړۍ د دویم اقتصاد په توګه له زیاترو هیوادونو سره د اوږدې مودې راهیسې صادراتي- وارداتي او د راکړې ورکړې اړیکې لري، وخت په وخت یې د دغو څو اړخیزو اړیکو د پراختیا، دوام او هڅونې لپاره کار کړی دی، هغه امتیازونه او اسانتیاوې چې د پانګوالو او مشتریانو لپاره یې رامنځ ته کړې دي، د پام وړ دي. د سمونونو په بهیر کې د شانګهای وړتیاوې د وارداتو نړیوال ندارتون لپاره فوق العاده دي. له ۲۰۱۸ کال څخه تر دې دمه درې دورې د وارداتو نړیوالو ندارتونونو کوربتوب یې د قناعت او رضایت وړ دی. د شانګهای ټاکنه د وارداتو نړیوال ندارتون د دغو برتریو پر بنسټ شوې او له کومو چې شانګهای برخمن دی او د چین په علمي، ساینسي، اقتصادي، صنعتي، سوداګریزه، مالي- پولي چارو، د هوایي او ځمکني ترافیکو او په نورو ډېرو برخو کې یې چې لري، د هغو تجربو پوخوالي له اړخه چې د هر کال په ترڅ کې یې د ډېرو فېستیوالونو، سپورټي، فلمي، هنري، کلتوري جشنوارو او ننداړو د دایرېدو په ساحه کې یې لري، په همدې بنا د وارداتو نړیوال ندارتون لپاره د لوړو غوره امتیازونو لرونکی دی.

افغانستان هم د نورو هیوادونو تر څنګ تر اوسه د دې ندارتون فعال ګډونوال پاتې شوی دی، که څه هم څلوېښت کلنې بدمرغه جګړې د وجود هیڅ برخه یې روغه او بې درده نه ده پرېښې، خو هېڅکله یې خپل ځای او نوم تش نه دی پرېښی، له خپلو شته لږو ډېرو امکاناتو یې استفاده کړې ده، د چین په تېرو دوو دورو کې ګډون او برخه اخیستنه یې د پام وړ وه او هم یې دا ځل د درېیمې دورې د وارداتو په نړیوال ندارتون کې ځای، نوم او برخه د یادونې وړ وه.

افغانستان زراعتي هېواد دی، د پرېمانه طبعي زېرمو څښتن دی، په دې مانا چې هم د خامو موادو او هم د زراعتي محصولاتو د صادرولو له اړخه د ډېر څه وړاندې کولو وړتیا او زېربنا لري. د چین د وارداتو نړیوال ندارتون د افغانستان لپاره ارزښتناک او د اهمیت وړ دی، څو د خپلو نایابه توکو لپاره ګټوره بازارموندنه وکړي، نورو ته د معرفۍ، ښودنې، د لېوالتیاوو او همکاریو خپلولو او د لابیګرۍ لپاره دا تر ټولو مناسب ځای او فرصت دی.

د افغانستان مشهور لاسي صنایع ډېر دي، د لرغونتیا، شهرت او نوم له اړخه بې مثاله دي، لکه افغان غالۍ په نړۍ کې لومړی مقام لري، په زراعتي پیداوارو کې یې زعفران، جلغوزي، پیسته، غوزان، بادام، وچکې، انار، انګور او مڼې یادولی شو. په کاني قیمتي کاڼو کې یې زمرد، لاجورد، مرمر او تالک ښه کیفیت او نوم لري. دا هغه څه دي چې تل د ډېرو چیني او بهرنیو مشتریانو د تقاضا له اړخه د لېوالتیا وړ دي.

په بېجینګ کې د افغانستان سفارت سوداګرۍ اتشې د معلوماتو له مخې، سږ کال د چین وارداتو د درېیمې دورې په نړیوال ندارتون کې پنځو افغان شرکتونو برخه درلوده او ځینو افغان سوداګرو هم پکې ګډون کړی و.

په ندارتون کې د افغان تولیداتو له غرفو څخه د لیدونکو ګڼې ګوڼې، تلوسې او خبرو کې د یو عجیب حس څرک څرګند و، د افغانستان په استقامت یې افرین وایه، له ډېرو ستونزو او کړاوونو سربېره بیا هم دلته په نړیوال ندارتون کې یې نوم، ځای او درې رنګی بیرغ شته، دا د افغانستان د ښکلو ظریفو توکو ځای څومره عالي او په زړه پورې دی، په سیمه کې د بې مثاله پټو نعمتونو، شتمنیو او غني سرچینو هیواد دی؛ خو دغه هیواد او ولس له څلوېښتو کلونو راهیسې د سوکاله ژوند لپاره لالهانده او تږی پاتې شوی دی.

که څه هم د چین د وارداتو نړیوال ندارتون تر اوسه درې دورې تر سره شوي دي، خو هر کال د نومبر میاشتې په ۴مه نېټه تر سره کېږي، په دې دومره کمه موده کې یې د بې شمېره بهرنیو تصدیو او مصرفوونکو هرکلی خپل کړی دی او د بهرنیو تصدیو تر منځ د تبادلې او تر یو چتر لاندې د راټولېدنې فرصت یې رامنځ ته کړی دی. دا چې په نړۍ او اکثرو هیوادونو کې د کرونا وبا ګواښ لا په خپل ځای او حال دی او د ځاني او مالي تلفاتو زیانونه یې بې شمېره دي، له منفي تاثیراتو یې هېڅ ځای او سیمه خوندي نه ده پاتې شوې، په تېره بیا نړیوالې سوداګرۍ ته یې زیانونه رسولي، خنډونه او ستونزې یې پېښ کړي دي او د نړیوال اقتصادي بحران خطر یې زیات کړی دی.

په دغسې له خطره ډک او ناڅرګند حالت کې په لویه پیمانه د چین درېیمې دورې نړیوال وارداتي ندارتون تر سره کونه یوه لویه کارنامه ده. دا واضح ده که چین د کرونا پر وړاندې مسوولانه مبارزه نه وای کړې، د ویروس مخه یې نه وای ډب او کنټرول کړې، د ځاني او مالي زیانونو کچه یې نه وای کمه کړې، د داسې یو لوی فعالیت او د وارداتو درېیمې دورې نړیوال ندارتون تر سره کول ممکن نه وو. د دې ټولو هلو ځلو نتیجه د اقتصادي چارو بیا ځلې احیا کېدنه، د تولیدي فابریکو، کمپنیو او شرکتونو عادي فعالیتونو او کارونو ته ستنېدنې له بیا ځلې احیا سره مرسته وکړه. په دې توګه یې نه یوازې خپلو؛ بلکې د نړیوالو تولیداتو پر مخ د بازارونو دروازې پرانیستې ساتلې دي، د وارداتي چارو ملاتړ او هڅونه یې کړې ده. دا د چین د اصلاحاتو او ورخلاصون د روحیې اغېز دی، هغې هیلې او ارمان ته کار دی کوم چې د بشر ګډ برخلیک ټولنې له جوړېدو سره تړاو لري، د ګډ برخلیک فکر او روحیې روزل او رامنځ ته کول دي، څو ټول په ډاډ د ګډ برخلیک په ټولنه کې ځانونه وګوري او هر څوک د ګډ برخلیک ټولنې د غړي احساس وکړي.

څو اړخېزم او نړیوالتوب نن سبا د زمانې او وخت اړتیا ده، دا غوښتنه د ټولو تقاضاوو په راس کې ده، دا تمایل به اوتومات همداسې په خپل مسیر روان اوسي. ځینې هغه چې په دې لړ کې یوازې د ځان په اړه او د خپلو ګټو په اړه لا هم د یو اړخیز فکر په کړۍ کې بند او ایسار دي، د نورو حقوق تر پښو لاندې کېدل ورته اهمیت نه لري، دا د استثمار سولېدلې، زړه او له کاره لوېدلې رویه او عادت دی. هغه چې نه مخکې چلېدلې او نه هم له دې وروسته یې د پایښت او چلښت امکان شته.

تمه ده چې دا ډول ستر نړیوال ندارتونونه د شته خنډونو په لرې کولو وتوانېږي او د نړیوالو ډاډمنو اړیکو د جوړولو لپاره لا ګټور او اغېزمن اوسي. په دې توګه تولیداتو او پیداوارو ته هر وخت او هر ځای اسانه د بازارموندنې ډاډمن فرصتونه د سالمو سیالیو په چوکاټ کې جوړ او برابر شي. د څو اړخېزم اصل په رښتینې بڼه ټینګښت ومومي، عام شي او په پراخه کچه دود شي.

# د افغانستان د برېښنايي او مخابراتي سکټورونو رېګولېشن؛ يوه پرتله

محسن امين

**درېيمه برخه:**

د مخابراتو په سکټور کې د اصلاحاتو لړۍ د ۲۰۰۲ کال په اواخرو کې د ولسمشر يو ځانګړی فرمان صادر شو چې د هغه وخت د مخابراتو وزارت ته يې اجازه ورکړه، څو د مخابراتو جوازونه خصوصي سکټور ته ورکړي. په فرمان کې راغلي وو چې وزارت دې د مخابراتي سکټور لپاره قانون او پالیسۍ جوړې کړي. د ۲۰۰۳ کال د جولای په مياشت کې د مخابراتي سکټور لپاره عمومي پالیسي د کابينې لخوا منظور شوه. په دې پالیسۍ کې راغلي وو چې د مخابراتو سکټور د تنظيم لپاره دې تر هغه پورې يو موقت بورډ جوړ شي، څو چې د تنظيم اداره خپل کار پيلوي. همدارنګه د ۲۰۰۵ کال په ډسمبر کې د مخابراتو قانون تسويد او منظور شو. که دلته يوه پرتله وکړو، د مخابراتي سکټور لپاره قانون په ۲۰۰۵ کال کې منظور او پلې شو، خو د برېښنا سکټور د حقوقي چوکاټ لپاره هېڅ کوم اقدام نه و شوی او د قانون تسويد يې په ۲۰۰۸ کال کې پيل شو او اووه کلونه وروسته په ۲۰۱۵ کال کې منظور شو.

د مخابراتي سکټور د تنظيم اداره يا په مختصر شکل چې د اترا په نوم يادېږي، په ۲۰۰٦ کال کې رامنځ ته شوه چې د مخابراتو د سکټور جوازونه، خدمات او نور فعاليتونه يې تنظيمول او څارل. د اترا له رامنځ ته کېدو سره نوموړې اداره او د مخابراتو وزارت په ګډه د خصوصي سکټور لپاره د پانګونې درست چاپيريال جوړ کړی و، چې خصوصي سکټور په ډاډ سره پکې پانګونه کوله. د سيګار اداري يو راپور وايي، اګر چې نړيوالې ټولنې د افغانستان د مخابراتي سکټور په وده کې مرسته کړې، خو د سکټور پر پښو ودرول او مخې ته وړل د افغان حکومت په نوښت او تر رهبرۍ لاندې تر سره کېدل، ځکه اړين قوانين يې پر وخت جوړ کړل، حقوقي چوکاټ يې را منځ ته کړ او خصوصي سکټور يې وهڅاوه چې په اطمينان سره پانګونه وکړي. راپور وايي چې تر اوسه ۱۳۰ زره خلکو ته د مخابراتو په سکټور کې د کار زمينه برابره شوې او حکومت ته د مخابراتو له سکټور څخه ۱.۸ ميليارده ډالر په تېرو کلونو کې لاسته ورغلي.

د مخابراتو په سکټور کې دې ډول ريفورم او اصلاحاتو نتيجه مثبته وه او سکټور په ښه شکل وده وکړه. له بده مرغه د برېښنا په سکټور کې ورته لرليد او تګلاره نه وه. له خصوصي سکټور څخه د پانګې را جلبولو لپاره هڅې ډېرې ناوخته او له ۲۰۱۲ کال وروسته پيل شوې او لا تر اوسه حقوقي او د تنظيم چارو چوکاټ يې نه دی بشپړ شوی.

د مخابراتي سکټور اوسنۍ ننګونې

د افغانستان د مخابراتو سکټور وتوانېده چې په مارکېټ کې سيالۍ رامنځ ته کړي، شپږو سترو مخابراتي شرکتونو او په لسګونو د انټرنېټ د خدماتو شرکتونو په سکټور کې د دوو ميلياردو ډالرو په اندازه پانګونه وکړه، د حکومت لپاره د کال تقريباً ۱۴۰ ميليونو ډالرو د عوايدو سرچينه وګرځېده او په لکونو افغانانو ته يې د کار زمينه برابره شوه، خو د خدماتو کيفيت او د پېرودونکو له حقونو څخه ساتنه او د افغانستان کليو ته نه پاملرنه هغه ننګونې دي، چې د مخابراتو سکټور ورسره مخ دی.

په څو مختلفو څېړنو کې دا يادونه شوې چې خلک د مخابراتي شرکتونو له بې کيفيته خدماتو څخه ناراضه دي. هغه درې موارد چې د مخابراتي شرکتونو پېرودونکي ترې سر ټکوي، په لاندې ډول دي:

د شبکې محدود پوښښ

د ټيليفوني او انټرنېټي خدماتو ټيټ کيفيت

د خدماتو د بيو لوړوال او په ځينو برخو کې د قيمت په اړه د پېرودونکو ناخبره ساتل

اترا د پانګې په را جلبولو او د جواز په ورکړه کې بريالۍ وه، خو کله چې شرکتونو پر کار پيل وکړ او د پېرودونکو شمېر تر ۲۰ ميليونو واوښت، د ټولو مشتريانو له حقونو څخه يې په سمه توګه ساتنه ونه شوای کړای. شايد د دې لامل دا وي چې په اترا کې د تخنيکي او مديريتي ظرفيت کچه ټيټه ده. د سترو شرکتونو څارنه او تنظيم چې پېرودونکي يې له ميليونونو څخه ډېر وي، د مديريت او تخنيک له امله دروند او پېچلی کار دی. د سکټور له پراختيا سره د اترا د اداري او بشري ظرفيت پرمختګ هم اړين و، چې له بده مرغه په هاغه شکل تر سره نه شو، څومره يې چې تمه وه.

بله ننګونه د مخابراتو په سکټور کې د مخابراتو وزارت او د اترا خپلواکې اداري تر منځ په کارونو او د دندو په لايحه کې لاسوهنه او مداخله ده. اترا اداري له پيل څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې د وزارت تر چتر لاندې فعاليت کاوه او د وزارت رهبرۍ پرې مستقيم اغيز درلود. د تنظيم اداره د کارونو د ښه موثريت لپاره بايد خپلواکه وي، په ۲۰۱٦ کال کې د مخابراتو په قانون کې له ځينو تعديلاتو وروسته، اترا خپلواکه شوه، خو لا تر اوسه د وزارت تر اغيزو لاندې ده. پر دې سربېره، د اترا په چارو کې د ولسمشر د دفتر، اداره امور، د ملي شورا او د نورو سياستوالو لاسوهنې د اترا رول او انځور ته زيان رسوي. دا د خصوصي سکټور لپاره هم د منلو وړ نه ده چې د اترا په چارو کې لاسوهنه وشي.

د دې لاسوهنو يو مثال د حکومت لخوا د ټيليکام سکټور پر ټيليفوني پېرودونکو د کرېډيټ کارت لس سلنې ماليې وضع کول او راټولول وو. د قانون له مخې، د اترا اداره مکلفه ده چې نوموړې ماليه د وزارت ماليې په مرسته راټوله کړي او د ټولې پروسې څارنه وکړي. د اترا پر ځای د مخابراتو او ماليې وزارتونو دا کار مخې ته يووړ او مستقيماً يې پر شرکتونو دا ماليه وضع کړه او د ماليې راټولول يې په خپل لاس کې واخيستل او اترا اداره له پروسې څخه وويستل شوه.

د مخابراتو وزارت اعلان وکړ چې د لس سلنې ماليې راټولول به د «ريل ټايم» د څارنې سيستم پر بنسټ کوي، لکه څنګه چې د مخابراتو پر خدمتونو باندې د محصول قانون هم همدا وړانديزوي چې په شپږو مياشتو کې د ننه بايد د «ريل ټايم» څارنې سيستم انلاين شي. د مخابراتو وزارت د اترا پر ځای پر دې پروسې کار کوي او د قانون له تصويب څخه څلور کلونه وروسته هم نوموړی وزارت نه دی بريالی شوی چې د «ريل ټايم» څارنې سيستم انلاين کړي او ټول مخابراتي شرکتونه ورسره وصل کړي. د قانون له مخې بايد د اترا اداري دا پروسه رهبري کړې وی، خو د اترا پر ځای د مخابراتو وزارت د قراردادي له پيدا کولو نيولې د قرارداد تر لاسليک پورې هر څه پر مخ وړي، چې دا بيا عملاً د قانون ماتول دي.

**دوام لري...**

# د مرستو د کمېدو خطر او جنيوا کنفرانس؛

## ولسمشر غني: موږ له نړيوالو خيرات نه، بلکې پراخه همکاري او پياوړې اړيکې غواړو



په راتلونکو دوو مياشتو کې له افغانستان سره د نړيوالې ټولنې د مرستو موده پای ته رسېږي چې اوس د مرستو د دوام او تمديد لپاره د جنيوا کنفرانس روان دی. په دغه کنفرانس کې ګڼو افغان چارواکو او د بېلو ادارو مشرانو ويناوې درلودې او له افغانستان سره د مرستو د دوام غوښتنه يې کوله. ولسمشر غني ووېل چې له نړيوالو خيرات نه، بلکې له دوی سره د ښو اړيکو غوښتونکی دی. بلخوا ګڼو نړيوالو بنسټونو هم پر مرستندويه هېوادونو غږ کړی دی چې له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

پرون د افغانستان په اړه د جنيوا کنفرانس د بهرنيو چارو د وزير حنيف اتمر په وينا پيل شو. د دغه کنفرانس په څنډه کې د تېرې ورځې غونډه د تلپاتې سولې ټينګولو په نامه وه، چې په هغه کې حنيف اتمر او د اروپايي ټولنې کمېشنر لينار چيچ مشري کوله. په دې غونډه کې حنيف اتمر وويل چې سوله د افغان حکومت لومړيتوب ده او دوی هڅه کوي چې ژر تر ژره په افغانستان کې روانه خونړۍ جګړه د خبرو له لارې حل شي، خو هغه د خپلو خبرو په دوام وويل چې طالبانو د سولې په برخه کې پر خپلو کړو ژمنو عمل نه دی کړی. د ده په وينا، سره له دې چې افغان حکومت د طالبانو زرګونه بنديان خوشي کړل، خو دې ډلې په تاوتريخوالي کې کموالی نه دی راوستی، بلکې برعکس جګړې يې ډېرې کړې دي.

اتمر دغه راز ټينګار وکړ چې د سولې هڅې بايد د تاوتريخوالي د کمښت سبب شي. د ده په وينا: ((موږ د طالبانو بنديان خوشي کړل، خو دلته تاوتريخوالی کم نه شو، لا هم له بده مرغه د افغانانو هر سهار په چاودنو او خونړيو پېښوپيلېږي)).

افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم دې غونډې ته وينا وکړه او له نړيوالو يې د مرستې او همکارۍ غوښتنه وکړه. هغه وويل چې له نړيوالو خيرات نه غواړي، بلکې له دوی سره پراخې اړيکې او د لا ډېرې همکارۍ غوښتونکی دی. ولسمشر غني همدا راز د سولې په تړاو د نړيوالې اجماع پر پياوړي کولو هم خبرې وکړې. هغه وويل چې نړيوال، په تېره د سيمې هېوادونه بايد د افغانستان د سولې په اړه سره يوه خوله شي او په دې موضوع کې د دوی اجماع ډېره مهمه ده.

ولسمشر د خپلو خبرو په دوام له نړيوالې ټولنې د مرستو د دوام او دغه راز له ترهګرۍ سره پر کارنده مبارزې ټينګار کړی دی. ولسمشر غني زياته کړې، چې نړيواله ټولنه بايد له افغانستان سره خپلې مرستې روانې وساتي، څو افغانستان سياسي ثبات او سولې ته کار وکړي. د ده په خبره: ((موږ له نړيوالو خيرات نه، بلکې لا ډېره همکاري غواړو. نړيوال بايد دلته له ترهګرۍ سره د مبارې او په افغانستان کې د دايمي پرمختګ لپاره له موږ سره خپلو مالي مرستو ته ادامه ورکړي)).

په دې غونډه کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر محمد معصوم ستانکزي هم د سولې لپاره د نړيوالو مرستې مهمې بللې دي. هغه په خپلو خبرو کې ويلي چې نړيوال دې د سولې د راتګ او دغه راز تر سولې وروسته د دايمي ثبات د تامين لپاره له افغانستان سره د خپلو مرستو پر دوام هوکړه وکړي. نوموړي د جنيوا کنفرانس ته وينا کې ويلي، په اوسني پېچلي وضعيت کې له طالبانو سره خبرې له لوړو ژورو ډکې، خو سولې ته د رسېدو تر ټولو لنډه لار مذاکرات دي او دوی به د افغانانو په استازولۍ تلپاتې سولې ته د رسېدو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي. نوموړي زياته کړې، د افغانستان راتلونکې نړيوالو مرستو ته اړتيا لري، څو د دې پروسې له برياليې کېدو سره د ګڼو نورو ستونزو تر څنګ هېواد ته د کډوالو د بيا راستنېدو زمينه هم برابره شي.

بلخوا ګڼو نړيوالو بنسټونو هم پر ملګرو ملتونو او مرستندويه هېوادونو غږ کړی چې له افغانستان سره د بشري ناورين د مخنيوي او دغه راز دايمي ثبات د راتګ لپاره خپلو مرستو ته ادامه ورکړي. نن به هم د جنيوا کنفرانس ادامه پيدا کوي او مرستندويه هېوادونه به د خپلو مرستو په اړه ويناوې کوي. دوی مخکې له مخکې افغان حکومت ته ګڼ شرطونه ټاکلي دي، چې د مرستو د دوام لپاره بايد هغه عملي کړي. په دې کنفرانس کې سلو هېوادونو او مرستندويه بنسټونو ګډون کړی دی.

# د کرونا چټکه پراختيا؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر له ۵۹ ميليونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ويروس مثبتې پېښې له ۵۹ ميليونو واوښتې. دغه راز د ياد ويروس له کبله تر دې مهاله يو ميليون او ۳۹۵ زره او ۸۷٦ کسان مړه شوي او نږدې ۴۱ ميليونه ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امريکا متحده ايالتونه د کرونا ويروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امريکا کې د دغه ويروس ټولې ۱۲ ميليونه او ۵۹۱ زره او ۴۰۲ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲٦۲ زره او ۷۲٦ نور امريکايان ترې مړه شوي دي.

له امريکا وروسته هند د نهه ميليونه او ۱۴۲ زره او ۹۲٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دويم، برازيل د شپږ ميليونه او ۷۱ زره او ۴۰۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېيم، فرانسه د دوه ميليونه او ۱۴۰ زره او ۲۰۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسيه د دوه ميليونه او ۱۱۴ زره او ۵۰۲ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ويروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانيا، برېټانيا، ايټاليا، ارجنټاين او کولمبيا په ترتيب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ اداره يا يونيسف وايي، په پام کې لري چې راتلونکی کال د ودې په حال کې ۹۲ هېوادونو ته د کرونا دوه ميلياره ډوزه واکسين او يو ميليارډ ستنې ولېږي.

يونيسف، چې د نړۍ په کچه د واکسين پېرلو تر ټولو لويه اداره ده، هر کال په نږدې سلو هېوادونو کې د ويروسونو د خپرېدو د مخنيوي او د کتلوي معافيت په هدف څه باندې دوه ميلياره ډوزه واکسينونه پېري.

د ودې په حال کې هېوادونو ته په دغه شمېر د کرونا واکسين لېږل اسانه هم نه دی، خو يونيسف وايي چې له بار وړونکو په سلګونو هوايي او سمندري شرکتونو او د لوجستيک له نړيوالو شريکانو سره په دې برخه کې کار کوي. په ورته مهال د نړۍ د لويو شلو اقتصاد لرونکو هېوادونو مشرانو د رياض په سرمشريزه کې ژمنه وکړه چې هېڅ ډول هڅه به ونه سپموي، څو دا مسئله يقيني شي چې د کووېډ-۱۹ ويروس پر وړاندې واکسين ټولو خلکو ته يوشان ورسېږي او د هغو هېوادونو، چې د کرونا خپرې شوې وبا يې اقتصادونه ډېر ځپلي، لاسنيوی وشي.

د امريکا او اروپا د درمل جوړولو يو شمېر لويو شرکتونو له دې وړاندې ويلي چې د کرونا ضد واکسينونه يې په پراخه پيمانه توليد ته نږدې شوي دي.


د امريکايي فيزر او موديرنا کمپنيو له خوا جوړو شويو واکسينونو ښودلې چې له کرونا څخه د خوندي کېدو اغېزمنتوب يې په سلو کې څه باندې ۹۰ دی.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ


### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دولت: د برېټانویانو یو امتیاز دا دی چې هر وخت او هره ورځ تحلیلونه نه چمتو کوي. هغوی پر یوه مشخص شي د اوږد مهال لپاره کار کوي، وخت ورکوي او یو کس هغه وخت بریالی دی، چې کار یې د اجرایوي مشرتابه لپاره اړین وي. د MI٦ او MI٥ مشران چې هر کله وغواړي خپل لومړي وزیر ته لاسرسی پیدا کولای شي.
دورانی: د هغوی تر منځ یو دود حاکم دی، ټول د سلطنتي کورنۍ لپاره کار کوي.
سېنها: امریکایان د خپلو استخباراتي ادارو په اړه ډېر شیان لیکي، خو موږ یې نه کوو.
دولت: ملک صېب خپل یادښتونه لیکلي دي.
سېنها: څومره وخت کېږي؟ هند او غالباً پاکستان ډېر لږ لیکنیز مواد لري.
دولت: زه نه پوهېږم چې ولې. لس کاله مخکې زموږ د IB یوه مشر نهکال سانډو لېوالتیا درلوده چې د استخباراتو د تاریخ په اړه یو کتاب ولیکي. خو کېدای شي چې کوم چا منع کړی وي. معمولاً همداسې ده.
سېنها: لا وخت شته! دا په نړۍ کې د اوږدې مخینې لرونکی سازمان دی.
دولت: ارشیف نه شي پرانیستل کېدای. دا لېونتوب دی، څکه که امریکایان، روسان یا برېټانویان د خپلو سازمانونو په اړه غږېږي، گټه او اعتبار یې یوازې هغوی ته رسېږي. په هند کې حتی خلک نه پوهېږي چې IB څه ډول اداره ده. هلته خلک د IB او CBI ترمنځ په اسانه تفکیک نه شي کولای. هغوی لکه جنرال صېب چې وویل، محلي تانه دار پېژني، خو د پولیسو ځانگړې ځانگه نه پېژني.
سېنها: د ISI د «یېږ لومه» کتاب سخت توپان کړی و.
دورانی: موږ د تاریخي واقعیتونو د لیکلو په برخه کې کوم اغېزناک کار نه دی کړی، د یېږ لومه – که څه هم کره والی یې د پوښتنې وړ دی- یوه ښه هڅه وه. هند یو شمېر کتابونه لیکلي، خو د CIA په ملاتړ لیکل شوي اثار خورا زیات دي.
سېنها: په دې کې یادښتونه شامل دي او که ژورنالېستیک اثار؟
دورانی: په ټوله کې ښه کار نه دی. یو کس به چېرته شپږ میاشتې نه وي تېرې کړې، راولاړ شي او پنډ کتاب ولیکي. له افغانستانه د شوروي پوځیانو تر وتلو وروسته پیټر ټامسن د امریکا د ولسمشر ځانگړی استازی وټاکل شو، دا هغه وخت و چې زه د ISI مشر وم. ما نه غوښتل چې له هغه سره خپل وخت ضایع کړم. د امریکا سفیر یوه ورځ راته وویل چې ولې له ځانگړي استازي سره نه گورې؟ ما وویل تر اوسه نه پوهېږم چې هغه دلته څه کوي؟ خو بیا مې هم هڅه کوله چې ورسره وگورم. هغه د پام وړ نه و. وروسته خبر شوم چې «د افغانستان جگړې، (۲۰۱۱) تر نامه لاندې یې یو پنډ کتاب لیکلی. شپږ میاشتې یا یو کال یې د ورځپاڼو په لوستلو باندې لگولی و. نوموړي له هېچا سره اړیکې نه درلودې. په کتاب کې لا یو څپرکی زما په اړه لیکل شوی. پر دې سربېره چې په خپل کتاب کې یې ادعا کړې چې نوموړي افغانستان رهبري کاوه او زه یې مرستیال وم، ستاینې یې هم کړې دي.
سېنها: څومره سطحي معلومات. خو لا هم د هغوی سازمان له دې ډول لیکنو څخه گټه اخلي.
دولت: CIA د چاپ او خپراوي لپاره یوه ځانگړې څانگه لري. هغوی دې کار ته د پام وړ وخت ځانگړی کړی دی.
دورانی: سره له دې چې یو جاسوس ډېر وخت وروسته هم یو کتاب ولیکي، زما هم زړه نه غواړي چې یوه پاڼه یې هم واړوم، فکر کوم چې د داسې خلکو اثار په څځلنۍ کې واچوم. د هغوی په سیستم کې د CIA مشر د ولسمشر له لوري ټاکل کېږي او همدا لامل دی چې دومره وزن نه لري. نوموړي هم یو پنډ کتاب لیکلی دی او بل کس دی چې په دروغو کې ریکارډ لري. نوم یې رانه هېر دی. د هغه د دروغو په ریکارډ کې هېڅ شک نه شته.
دولت: پنیټا؟
دورانی: پنیټا یو شریر انسان و، خو یاد کس هغه څوک و چې د عراق د ډله ییزې وژنې وسلو د موضوع لپاره گومارل شوی و. دا خبره باید واضح کړم چې کوم شیان چې د CIA کسان لیکي، موږ معمولاً داسې انگېرو چې دا به خامخا سم او معتبر معلومات وي. د هغوی قلم د یوې تېرې تورې په زور چلېږي چې موږ دا ډول توره نه لرو.
**دوام لري...**

# ژاک دریدا

شفیق امیرزی



ژاک درېدا فرانسوي لیکوال، فیلسوف او ادبي نقاد و. هغه د ۱۹۳۰ کال د جولای په پنځلسمه په الجزایر کې زېږېدلی دی. مکمل نوم یې ویلیام دیل تموتي ژاک درېدا دی. په یوه متوسطه کورنۍ کې د الجزایر په البیار ښار کې وزېږېد. دی لس کلن و چې دویمه نړیواله جگړه الجزایر ته هم ورسېده. دی او نور یهودیان له ښوونځیو و ایستل شول، خو وروسته چې د متفقینو ځواکونه الجزایر ته راغلل، بېرته یهودي ښوونځي پیل شول او ده هم زده کړو ته مخه کړه. په ۱۹ کلنۍ کې فرانسې ته لاړ او دلته یې د پوهنتون لپاره د تیارۍ دوره پیل کړه. غوښتل یې ځان پوهنتون ته تیار کړي او خپلو لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي. دی یو پیاوړی لیکوال و نظریاتو یې په ادبیاتو او فلسفه کې پېچلي خو مهم او د پام وړ دي.

درېدا د خپل ژوند پر مهال تر څلوېښتو ډېر کتابونه خپاره کړي دي. لسگونه مقالې یې لیکلي او خپرې کړې او دغه راز لسگونه ځله یې ویناوې کړې دي. تر ډېره یې ویناوې په علمي کنفرانسونو او غونډو کې تر سره کېدې. بلخوا د هغه ډېری مرکې هم د ارزښت وړ دي او لوستونکي لري. دریدا پراخ فکر درلود، هغه د تېرې فلسفي او نوو مډرنو فلسفي نظریاتو په اړه مطالعه لرله او تر ډېره یې نوې خبرې کولې. پر ده یوه نیوکه دا ده چې ډېرې پیچلې خبرې یې کړې دي، یو وخت یوه خبریال پوښتنه ترې وکړه چې خلک دې د متونو پر پېچلتیا نقد کوي. یا داسې وایي چې خبرې یې خورا پېچلې دي د چا سر نه وربانديې خلاصېږي. ده به ویل عجیبه ده، ما چې څه ویلي ټولې هغه پوښتنې دي چې خلک یې په فکر کې لري. غواړي مطرح یې کړي، دا به د نه منلو خبره وي چې څوک د یوه ډاکټر او انجنیر په مخففو خبرو پوهېږي، خو په هغو علمي مسایلو نه پوهېږي چې د دوی د ذهن پوښتنې ځوابوي او د دوی د ژوند پر اړوندو مسایلو بحثونه کوي. درېدا تر ډېره په انساني یا بشري علومو کې د پام وړ ځای خپل کړی دی او گټور نظریات لري. په فلسفه، ادبیاتو، حقوقو، انسان پېژندنې، تاریخ لیکنې، ژبپوهنې، ټولنپوهنې، ارواپوهنې او سیاستپوهنې په برخه کې یې اثار پرې ایښي دي. د درېدا اثارو په بېلو برخو کې پر اکاډمیکو چاپېریالونو اغېز درلود. په ټوله امریکا، اروپا، جنوبي امریکا او نورو هېوادونو کې په بېلو بحثونو کې د ده اثار د استفادې وړ دي. تر ډېره د انسان پېژندنې، معرفت پوهنې، اخلاقو، ښکلاپوهنې، د ژبې د فلسفې او نورو مواردو په برخه کې لا هم استادان او پروفیسوران د ده نقلونه لېږدوي. د ده تر ټولو ډېر او د پام وړ اغېز په ادبیاتو او فلسفه کې دی. په دې ده پسې ویل کېدل چې تر هر څه ډېر یې له ادبیاتو سره مینه لرله، خو فلسفه یې په مسلکي توگه لوستې وه. په ادبیاتو کې یې څکه د لیکوالانو او پوهانو پام ځان ته اړولی دی، چې هغه د ژبپوهنې له مطالعې او تحلیل سره ډېره مینه لرله. ده د ژبپوهنې او ژبنۍ فلسفې په اړه خورا ډېر معلومات لرل او د ادبیاتو په اړه یې تر ځان د ډېرو پخوانیو لیکوالانو او نظر خاوندانو مفکورې نقد کړې دي. د درېدا ماشومتوب په الجزایر کې پیل شو. دا سیمې د نړیوالو او سیمه ییزو جگړو شاهدې وې او د لړکیو پر وړاندې تبعیضي چلند پکې کېده. دی د خپلې کورنۍ له پنځو اولادونو درېیم یې و. ښوونځی یې پیل کړ، خو د یهودي ضد ځواکونو له لوري یهودي ماشومان د درېدا په گډون له ښوونځیو و ایستل شول. درېدا پوره یو کال په پټه په ځینو ځایونو کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکوله. تر دې چې یو کال وروسته د متفقینو ځواکونو د بېځایه شوو وگړو ښوونځي جوړ کړل او ده ته هم ښوونځي ته د تگ اجازه ورکړل شوه. په نوي زلمیتوب کې یې د فلسفې او ادبیاتو د مطالعې شوق درلود. سپورت یې هم کاوه، د ښوونځي پر مهال یې هڅه کوله چې د فوټبال ښه لوبغاړی شي. بیا یې دا مینه ډېره شوه او غوښتل یې په نړیواله کچه په یوه حرفه یي او مسلکي فوټبالر بدل شي. دا مینه یې د عمر تر پایه ورسره وه او ډېر وخت به یې د فوټبال او سنوکر په لوبو کې برخه اخیسته. په ادبیاتو او فلسفه کې یې بیا د نوې ځوانۍ پر مهال د روسو، نیچه او نورو اثار ولوستل.

په ۱۹۴۹ کال کې چې کله له الجزایر فرانسې ته ځي، نو په ژوند کې یې تحولات راځي. له یوې خوا دلته پوهنتون ته د داخلېدو تیارې نیسي او له بلې خوا د فلسفې په برخه کې له خپل نوي استاد (tienne Borne) سره معرفي کېږي. له همدې استاد بیا د فلسفې زده کړه کوي او د ادبیاتو او فلسفې په برخه کې د نوو معلوماتو او نظریاتو څښتن کېږي. درېدا په فرانسه کې له نورو مشهورو علمي څېرو سره هم اشنا شو. خپله ماسټري یې د فلسفې په برخه کې بشپړه کړه. بیا په یوه رقابتي ازمون کې بریالی شو چې هارورډ پوهنتون ته لاړ ومومي. هلته یې د خپلې دوکتورا زده کړو ته مخه کړه، په بوستون کې له یوې اروا پوهې سره اشنا شو او واده یې وکړ. مارگریت او درېدا د عمر تر پایه د یو بل تر څنگ وو. کله چې د الجزایر د ازادۍ لپاره جگړه پیل شوه، نو ده پوځي خدمت تر سره نه کړ، پر ځای یې د سرتېرو او پوځي کارکوونکو ماشومانو ته د تدریس مسوولیت واخیست.

تر جگړې وروسته له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۴ کال پورې درېدا په سوربن پوهنتون کې د فلسفې په تدریس پیل وکړ. دی په دې پوهنتون کې د سوزان باکلارد اسیستانت و او همدا راز یې د هغه مهال د فلسفې له تکړه استادانو لکه کانگوهیلم او ژان وال سره نږدې علمي اړیکې لرلې. په ۱۹۶۳ کال کې یې له مارگریت لومړنی بچی وشو او په ۱۹۶۴ کال کې یې د خپلو استادانو په مشوره په لا ډېرو برخو کې په تدریس پیل وکړ او نورو پوهنتونو ته هم لاړ. ده تر ۱۹۸۴ کال پورې په اي ان ایس کې د تدریس څوکۍ درلوده او د فلسفې استاد و. ده په همدې وخت کې د ادبي او فلسفي نظریاتو له تیورسنانو سره اړیکې پیدا کړې او پوره اووه کاله یې له دوی سره پر مهمو ادبي مسایلو نظرونه تبادله کړل.

ژاک درېدا دا مهال په فرانسه او خپله شاوخوا کې ښه مشهور شوی و، خو نړیوال شهرت ته هغه وخت ورسېد چې په جان هاپکینز پوهنتون کې یې د بې رغښته کولو یا ډیکانسټرکشن په اړه خپله وینا یوې لویې علمي غونډې ته واوروله. ده د علایمو او بې رغښته کولو په اړه په ۱۹۶۶ کال کې خپله دغه وینا واوروله. په همدې غونډه کې له ژاک لاکان او پاول دومن سره گورې چې وروسته دغه معرفت د ادبي او فلسفي نظریاتو تبادلې او بحث ته لار پرانیزي. په ۱۹۶۷ کال کې د درېدا دویم زوی هم وزېږېد او په همدې کال کې یې د لومړي ځل لپاره درې مهم کتابونه هم له چاپ راووتل.

په ۱۹۸۰ کال کې د مهمو کارونو د تر سره کولو له امله د کلمبیا پوهنتون هغه ته افتخاري دوکتورا ورکړه. همدا راز یې په پاریس پوهنتون کې هم د خپلې دوکتورا دوره بشپړه کړې وه او له خپلې لیکلې مقالې یې په بریا دفاع وکړه. وروسته یې د ډیزرټېشن انگلیسي ترجمه د لیکنیو علایمو تر عنوان لاندې په ۱۹۸۰ کال کې په انگلیسي ژبه خپره شوه.

درېدا تر ډېره ځان ته تاریخ لیکوال وایي. ده په پراخه پیمانه د غرب د دودیزې فلسفي فرضیات او غربي فرهنگ له پوښتنې سره مخ کړل. د گڼو مواردو په اړه یې پوښتنې کولې، داسې پوښتنې چې د فرهنگ د اصلاح او غنا لپاره مهمې وې. ده د بحثونو او نظرونو هغه بهیرونه هم له پوښتنې سره مخ کړل، چې په دودیزه توگه او له نوښت پرته یې په تېرو پنځول شوو اثارو شخوند واهه. هغه په پوهنتونو کې هم د تغیر او دیموکراتیک کولو پلوی و او دا یې غوښتنه وه چې بحثونه باید ازاد او له محدودیتونو پرته تر سره شي. ده د غرب په فرهنگ، ادبیاتو او فلسفه کې خپلې تگلارې او نظریې ته بې رغښته کول یا ډیکانسټرکشن اصطلاح وکاروله. د ده په خبره، ډېر مسایل لا ډېرو سپړلو ته اړتیا لري، نو دا به ښه نه وي چې په پخوانیو جوړو شوو چوکاټونو قناعت وکړو او هر څه ته لاس تر زنې ناست وو.

ژاک درېدا له اپلاتون تر روسو پورې بیا د هایدگر تر استدلالونو پورې د غربي فلسفې ټول اثار په دقت او مفصله توگه ولوستل. دی وایي، د غرب فلسفه ځینې داسې مهمې برخې لري چې په بنسټیزه توگه پکې منل شوې دي او متافیزیکي جوړښت لري. په دې مانا چې د انسان په حقیقي ژوند کې هېڅ درد نه شي دوا کولی، خو د غرب د فلسفې لارویان کلک ورپورې نښتي دي او دفاع ترې کوي. د درېدا په خبره، د بې رغښته کولو پر مټ او د خپلې لارې په مرسته دی هڅه کوي، دغه رامنځ ته شوي چوکاټونه چې له حقیقي ژوند سره سر نه خوري او متافیزیکي ځانگړنې لري راښکاره او تضعیف کړي. په دې مانا چې ورو ورو یې له دودیزې فلسفې لرې کړي او فلسفي علوم په ژوند کې له حقیقي مسایلو سره همغږي کړي.

درېدا د متونو د لوست او لیک په اړه هم ځانگړې نظریات لرل. هغه د یونان او غرب د فلسفې ټول پخواني متون تر نظر تېر کړي وو او له همدې امله یې د متن پوهنې په اړه هم نظریات لرل. ده به ویل هېڅ شی له متن بهر نه دي، په دې مانا چې هر څه په متن کې راتللی شي او هغه څه چې موږ یې لولو، پخپله په متن کې نه دي، بلکې تر څنگ یې نور مسایل هم شته. د ده په خبره، موږ یوازې هغه کلمات لولو چې په کتاب کې دي، یا په متن کې دي، خو دغه کلمات په خپل روح کې له نورو کلماتو، دودونو او فرهنگ سره ژورې اړیکې لري چې سپړنې ته اړتیا لري.

ژاک درېدا د لیکوالۍ او متونو په اړه هم ځانگړې نظریات لرل. د ده په خبره، متن باید داسې ولیکل شي چې لوستونکی وربانديې پوه شي. دی وایي، ان که لیکوال پخپله خپل متون نه شوی تحلیل کولی، نو باید د دې وړ وي چې لوستونکی یې تحلیل کړي. هغه په دې باور و چې لیکوالان یو ځانگړی رواني کشمکش لري او له ځانگړې وضعیت سره مخ وي، چې ډېر وخت څه لیکي خو وروسته لوستونکي په متونو کې د څېړنې پر مټ په هغه کې لار پیدا کوي او په دې ځان پوهوي چې لیکوال څه غوښتل.

د نړۍ په ادبیاتو کې دغه مشهوره څېره د لسگونو مقالو، لیکنو او کتابونو تر خپرولو وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د ۷۴ کلونو په عمر ومړ. هغه تر شا ډېر مهم اثار پرې ایښي دي چې د ادبیاتو، فلسفې، سیاستپوهنې او نورو علومو په برخه کې په تیورکي مسایلو کې کارول کېږي او ځانگړی ځای لري. پښتو ته یې تر اوسه کتابونه نه دي ژباړل شوي، خو د ځینو استادانو په لیکنو او اثارو کې یې له نظریاتو استفاده شوې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۷٥ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ٤۷٥ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,٥۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# نیټورک مارکېټینګ څه شی دی؟

**ژباړه: ستوری خان**

تر ټولو لومړۍ خبره دا چې په نیټورک مارکېټینګ کې باید د (نه) اورېدلو حوصله ولرئ.

بېلابېل خلک د نیټورک مارکېټینګ په اړه بېلابېل نظرونه لري او همدا شان که له مختلفو اشخاصو وپوښتو چې نیټورک مارکېټینګ څه شی دی؟ نو مختلف ځوابونه به واورو.

هغه کسان چې د نیټورک مارکېټینګ له لارې بریا ته رسېدلي دي، هغوی د اړیکو رغول زده کړي دي، په کار یې لاس پورې کړی دی او د یو بریالي کاروبار لټه یې کړې ده چې له دې لارې یې میلیونونه ډالر گټه تر لاسه کړې ده.

دغه کسان به تاسې ته وایي چې نیټورک مارکېټینګ د انساني تاریخ یو لوی او غوره فرصت دی، د هغو خلکو لپاره چې ډېرې پیسې نه لري، د پیسه داره کېدو یوه ښه زمینه ده او د هغو کسانو لپاره چې غواړي په کمه پانگونه یې پیل کړي، کولای شي ډېرې پیسې تر لاسه کړي.

که چېرې له هغو خلکو سره خبرې وکړې چې په دغه کار کې یې ډېر وخت تېر کړی وي، خو بیا هم څه لاس ته نه وي ورغلي، نو هغوی به تاسې ته ووایي: نیټورک مارکېټینګ هېڅ پایله نه لري، یوازې هغه کسان چې په سر کې دي کولای شي یو څه تر لاسه کړي.

نو دې ته په لیدو سره څوک په حقه دي؟

البته که سم فکر ورته وکړو هېڅ یوه یې د نیټورک مارکېټینګ په اړه سم ځواب نه دی ویلی چې نیټورک مارکېټینګ څه شی دی؟

ښه بیا نیټورک مارکېټینګ څه شی دی؟

د ویکیپېډیا له مخې، نیټورک مارکېټینګ هغه کسب دی چې د خرڅلاو د برخې کسان یې پرته له دې چې د تولیداتو او خدماتو د خرڅلاو له لارې عاید تر لاسه کړي، د کمېشن په شکل کې عاید تر لاسه کوي، دا کسب د یوې شبکې شکل خپلوي چې له پلورونکو پیلیږي او بیا داسې سلسله په سلسله لاندې اوږدېږي یا پرمخ ځي او تر هر کس لاندې چې دا سلسله مخ په وړاندې ځي، د عاید خاوند کېږي.

راځئ دا به یو څه نوره هم روښانه کړو څو د نیټورک مارکېټینګ په مانا او کار باندې سم وپوهېږو.

تاسو په دې ښه پوهېږئ چې هېڅکله بل چا ته په کار کولو څوک نه پیسه داره کېږي او په دې هم پوهېږئ چې د یو کاروبار جوړول او د هغې له لارې ښه گټه تر لاسه کول هم هغه څه دي، چې ستاسو پر ژوند باندې ژوره اغېزه لري، نو د نیټورک مارکېټینګ له لارې تاسې کولای شئ چې حتا نور کسان هم له ځان سره په کار وگمارئ، کولای شئ چې له خپل کوره یې پیل کړئ او د خپلې خوښې وخت ورته ورکړئ. همدا شان دا فرصت لرئ څو له مالي پلوه خپل ځان آزاد کړئ.

د دغو مواردو له لارې تاسې کولای شئ په کمه پانگونه او هغه زده کړه چې تاسې یې تر لاسه کوئ، له یو داسې شرکت سره یو ځای شئ او په کار پیل وکړئ چې د نیټورک مارکېټینګ په برخه کې فعالیت کوي.

خو خبره دا ده چې تاسو په رښتیني ډول له څنگه یو تجارت سره یو ځای کېږئ؟

نیټورک مارکېټینګ په اصل کې څه شی دی؟

کله چې تاسې له یو شرکت سره چې په نیټورک مارکېټینګ برخه کې فعالیت کوي یو ځای کېږئ، نو تاسې دې ته چمتووالی ښیئ چې د دغه شرکت تولیدات او خدمات به خلکو ته وړاندې کوئ.

تاسو په ډېره لږه پانگونه کولای شئ چې د نیټورک مارکېټینګ دغه ډگر ته راشئ.

تاسې د یو شرکت د کارکوونکي په توگه نه گمارل کېږئ؛ بلکې تاسې د یو آزاد کاروبار مالک کېږئ چې د یو پلورونکي په شکل له شرکت سره د یو مشاور په توگه د کار چمتووالی اعلانوئ او د تولیداتو د خرڅلاو د هغه مقدار له مخې چې تاسې یا ستاسو په نیټورک کې لاندې نورو کسانو کړی وي، کمېشن تر لاسه کوئ.

یا په بله مانا، د عاید د تر لاسه کولو لپاره تاسې یا ستاسې په نیټورک کې لاندې نور کسان د شرکت تولیدات یا محصولات باید وپلوري، ځکه چې د دغو تولیداتو د پلور له مخې تاسې د عاید تر لاسه کولو لور ته حرکت کوئ.

پر دې سربېره چې نیټورک مارکېټینګ ډېر هڅوونکی او گټور مسلک دی، ولې همدومره بیا ننگوونکی هم دی، تر ټولو اړینه یې دا چې که چېرې تاسې پلور، بازار موندنه، جذب او ټیم ونه لری، نو شاید ستاسو هڅې ستاسو د پایلو په وړاندې ستاسو په زړه نه وي.

که د «نه» اورېدو توان نه لری، نو نیټورک مارکېټینګ ته مه راځئ، که د هغو خلکو له ډلې یاستی چې له «نه» اورېدو سره خپله انگېزه او هیله له لاسه ورکوي، نو په دې باید پوه شی چې دلته د اخیستونکو لخوا ستاسو د وړاندیز پر وړاندې د «نه» اورېدو تله ډېره درنده ده.

ډېری وخت خلک ستاسو وړاندیز ردوي، دا له دې کبله چې ډېری وخت اخیستونکي په پلورونکو باور نه لري او دې ته ترجیح ورکوي چې یا یې له معتبرو ځانگو واخلي او یا یې خپله له شرکت څخه واخلي، خو که چېرې حوصله ولری، نو د دوامداره او لوړ عاید یو ښه مسلک او ښه لاره ده.

## خلیلزاد: د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د مثبت پرمختگ هرکلی کوو



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد په افغانستان کې د تاوتریخوالي کمېدو او اوربند ټینگېدو په اړه د پاکستان د ژمنو هر کلی کړی دی .خلیلزاد همدارنگه د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې د مثبت پرمختگ رامنځته کېدو هر کلی هم کړی دی.

نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي، که (د دواړو هېوادونو ترمنځ د سولې او ثبات ټینگېدو په اړه د نظر یووالي) سند عملي شي، دا به د افغان سولې او سیمه ییزې پراختیا په لور یو مثبت گام وي.

خلیلزاد زیاته کړې: «موږ دواړو هېوادونو ته مبارکي وایو چې په لاندې برخو کې د نظر یووالي باندې ټینگار کړی دی، چې په هغه کې د دواړو هېوادونو خاوره د یو او بل پر ضد نه کارول، ملي حاکمیت ته درناوی، د خلکو/ دولت/امنیت او اقتصادي اړیکې شاملې دي.»

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې پنجشنبې په ورځ کابل ته د پاکستان د لومړي وزیر عمران د سفر پرمهال، افغانستان او پاکستان په دواړو هېوادونو او سیمه کې د سولې او ثبات ټینگېدو د دوه اړخیزو همکاریو پر نوي سند هوکړه کړې ده. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویلي چې په دغه سند کې د سولې، امنیت او د اقتصادي همکاریو څخه ملاتړ، پراختیا او مرسته کول او افغانستان ته د افغان کډوالو ستنېدل شامل دي.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان تېره اونۍ کابل ته د سفر پر مهال وویل، چې په افغانستان کې د سولې غوښتونکی دی او حکومت یې د تاوتریخوالي د کچې راټیټولو لپاره هرې ممکنې همکارۍ ته چمتو دی.

په ورته مهال ملي شورا ډېرى غړي بیا د پاکستان دا ژمنې تکراري بولي او ټینگار کوي چې دغه هېواد باید د ژمنو پرځای، عملي گامونه پورته کړي او له افغانستان سره دې پر اوسني سیاست له سره غور وکړي.

## د ژغورنې نړیواله ډله: نړیواله ټولنه دې په افغانستان کې د سولې لپاره پر ښکېلو خواوو فشارونه ډېر کړي



د ژغورنې نړیواله ډله وایي، نړیواله ټولنه باید په افغانستان کې د سولې د راتگ لپاره پر ښکېلو اړخونو فشارونه ډېر کړي.

یادې ډلې په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې په افغانستان کې نړیوالو مرستو ته د اړو کسانو شمېره تر بل هر وخت ډېره شوې ده. دغه ډله ټینگار کوي چې نړیوال باید په افغانستان کې د سولې د راتگ لپاره خپل فشارونه ډېر کړي. د سرچینې په خبره، ښکېل لوري دې ژر تر ژره سوله وکړي، څو په افغانستان کې له یوې خوا روانه خونړۍ جگړه ختمه شي او له بلې خوا په دغه هېواد کې رامنځ ته شوی اقتصادي او ټولنیز ناورین پای ته ورسېږي.

د ژغورنې نړیوالې ډلې د جینوا کنفرانس پر گډونوالو غږ کړی چې سوله یې باید لومړیتوب وي، پر دواړو لورو دې فشار راولي، څو سولې ته تیار شي او همدا راز دې په بشري برخه کې له افغانستان سره خپلې مرستې ډېرې کړي.

دا په داسې حال کې چې تېره ورځ د افغانستان په اړه د جینوا کنفرانس ترسره شو. د یاد کنفرانس گډونوالو له افغانستان سره د مرستې د ژمنې ترڅنگ پر ښکېلو غاړو غږ وکړ چې ژر تر ژره دې د سولې روانې خبرې یوې هوکړې ته ورسوي اوربند ته دې زمینه برابره کړي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو د دولت د سولې له مرکچي پلاوي سره د وروستۍ لیدنې پرمهال ویلي چې د جوبایډن په راتگ سره به هم د افغانستان په اړه د امریکا سیاست ډېر بدلون ونه مومي او له افغانستان سره به د امریکا مرستې جاري وي.

پمپیو درې ورځې مخکې قطر ته د سفر پر مهال، د دغه هېواد له چارواکو سره د لیدنو ترڅنگ دافغان دولت او طالبانو د سولې له مرکچي پلاوو سره هم جلا جلا لیدنې درلودې.

د افغانستان دولت د مرکچي پلاوي یوه غړي چې په دې ناسته کې یې گډون کړی و، د نوم نه ښودو په شرط رسنیو ته ویلي، چې پمپیو ته یې په افغانستان کې د وروستیو ناامنیو، چاودنو، بریدونو او جگړو په اړه چې خلک ترې کړېږي، بشپړ معلومات ورکړل.

د سرچینې په وینا، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته یې په ډاگه کړه چې د افغانستان د خلکو لومړنۍ غوښتنه ژر اوربند او د جگړې پای دی. یادې سرچینې ویلي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د دې لیدنې پر مهال د افغانستان دولت د مرکچي پلاوي ستاینه کړې، چې خپل اتحاد او اتفاق یې ساتلی او دغه کار ثابته کړې چې تاسو د یوه واحد نظام لپاره کار کوئ.

دغه غړی وایي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ورته ویلي چې دوی به د تل لپاره له افغانستان سره خپلې مرستې جاري وساتي او له امنیتي ځواکونو سره به یې خپل فعالیتونه په دوامداره توگه دوام ولري.

د سرچینې په وینا، پمپیو زیاته کړه : «په دې کې شک نشته چې د امریکا حکومت به بدلون مومي، زموږ سرتېري به له ٤٥۰۰ څخه ۲٥۰۰ ته راکم شي، خو بیا به هم امریکا له افغان امنیتي ځواکونو سره خپلو مرستو او فعالیتونو ته دوام ورکړي.»

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین

او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily


غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com


سه شنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ خلورمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۴مه | ٦۳۴مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۹ | ۷ | ۵ | ۱۳ | ۸ |
| ۱ | ۱ | ۲ | ۰ | ۸ | ٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښین ۱۱:٤۰ | مازیګر ۰۲:۲٩ | ماښام ۰٤:٤٥ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ




## راپورونه: د اسراییل لومړی وزیر بنیامین نتنیاهو روانه اونۍ عربستان ته پټ سفر کړی



اسراییلي رسنیو ویلي چې د یاد هېواد لومړي بنیامن نتنیاهو روانې اونۍ د یکشنبې په ورځ سعودي عربستان ته پټ سفر کړی دی. د اسراییلي رسنیو د رپوټونو له مخې، نتنیاهو له ولیعهد شهزاده محمد بن سلمان او د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر مایک پمپیو سره د خبرو لپاره په پټه سعودي عربستان ته تللی و. رپوټونه وایي چې په اسراییلي پلاوي کې د دغه د استخباراتو د ملي اداري رییس یوسي کوهین، هم شامل و. رسنۍ وایي، د هوایي چلند معلومات ښیي چې دغه پلاوی په یوه شخصي الوتکه کې له تل ابیب څخه د سعودي عربستان نیوم ښار ته تللی و او څو ساعته وروسته بېرته راستون شوی دی. په ورته وخت کې د نتنیاهو دفتر تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي او د امریکا د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د یکشنبې په ورځ په اعلامیه کې ویلي چې پمپیو او شهزاده سلمان د سعودي عربستان په نیوم ښار کې کتلي دي، خو د اسراییل د لومړي وزیر په اړه یې څه نه دي ویلي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ویاند مرستیال کال براون ویلي: «دوی د خلیج د اتحاد د اړتیا په اړه خبرې کړي چې په سیمه کې د ایران د یرغلیز چلند مخه ونیول شي او د یمن د شخړې لپاره سیاسي حللاره ومونډل شي.» د یادونې ده چې پمپیو تېره اونۍ اسراییل ته تللی و او د هغه هېواد له لومړي وزیر سره یې د اسراییل، بحرین، سوډان او متحده عربي اماراتو د اړیکو د عادي کولو وروستۍ موافقې نمانځلې دي.

## د بشري حقونو د څار بنسټ: د بېلاروس د وروستیو لاریونونو پرمهال سلګونه کسان نیول شوي

د بېلاروس د بشري حقونو د څار یو بنسټ وایي چې د دغه هېواد په وروستیو لاریونونو کې له دوو سوو ډېر لاریونوال په مېنسک ښار کې د پولیسو له خوا نیول شوي دي. په ورته مهال له څو نورو ښارونو هم چې پراخ لاریونونه روان دي، د لسګونو کسانو د نیولو راپورونه خپاره شوي دي. لاریونوال او د حکومت مخالف ګوندونه د الکساندر لوکاشینکا پر ضد اعتراضونه کوي، خو د دولتي ځواکونو لهخوا نیول کېږي او پر دوی ورځ تر بلې فشارونه ډېرېږي. دالکساندر لوکاشینکا پر ضد له پیل شویو لاریونونو نږدې دري نیمې میاشتې تېرېږي، خو دواړه خواوې په خپلو کې لاهم کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي. د اګسټ له نهمې چې لوکاشینکا د بېلاروس په ولسمشریزو ټاکنو کې ګټونکی اعلان شوی، د دغه هېواد زرګونه کسان او مخالف ګوندونه لاریونونه کوي او له واکه د نوموړي پر لرې کېدو ټینګار کوي. په ورته مهال لوکاشینکا بیا په ځلونو د لاریونوالو او مخالفو ګوندونو دا غوښتنې رد کړې او ټینګاریې کړی چې د هېواد قانوني او منتخب ولسمشر دی او د هېڅ فشار ته به تسلیم نه شي. دغه راز لوکاشینکا او رژیم یې د لاریونوالو پر وړاندې د زور زیاتي په کارولو تورن دی او اروپایي ټولنې او ملګرو ملتونو پرې بندیزونه هم لګولي دي.

## سراج: طالبان هنوز هم از مراکز امن در شهر های پاکستان استفاده می کنند



نامزد رئیس عمومی امنیت ملی می گوید که هنوز هم طالبان از مراکز امن در شهر های کویته، پشاور، راولپندی و کراچی پاکستان استفاده می کنند. احمد ضیا سراج می افزاید که تاکنون هیچ نشانه یی وجود ندارد که کشور های مداخله گر منطقه پالیسی های شان در برابر افغانستان تغییر داده باشند.

آقای سراج می افزاید که طالبان با دیگر گروه های تروریستی، بازار خرید و فروش انتحاری ها را ایجاد کرده اند و بی پشتیبانی طالبان هیچ گروه توان فعالیت را در کشور ندارند.

در حالی که حکومت افغانستان از افزایش بی پیشینه خشونت ها درکشور همزمان با ادامه روند صلح خبرمی دهد ،نامزد رئیس عمومی امنیت ملی می گوید که هیچ گروه تروریستی بی پشتیبانی طالبان توان فعالیت را در افغانستان ندارد.

آقای سراج گفت: «اطلاعاتی که داریم طالبان و گروه های تروریستی یک بازار خرید و فروش و حتا قرض گیری انتحاری ها را ساختند.»

آقای سراج در حالی که از رویداد مشخصی نام نمی برد اما می گوید که هسته رهبری داعش ازبین رفته است اما زیردستان آنان در همکاری با شبکه حقانی به هرجنایتی دست میزنند.

آقای سراج گفت: «این شبکه های شهری شان با حقانی هم یک رابطه نزدیک دارند و حملات دلخراشی که در این اواخر صورت گرفته این ها در این دست دارند.» این مقام بلند پایه اطلاعاتی کشور می گوید که طالبان بر دوام امارت شان تاکید می ورزند و دیدگاه آنان از صلح دور؛ و تنها می خواهند از راه جنگ پیروز شوند.


## ژونــــد

## کرونا؛ ولې خلک یوازې له کوره بهر احتیاط کوي؟




یوې نوې څېړنې ثابته کړې چې کرونا وایروس په حقیقت کې له پخوانیو اټکلونو څخه په چټکۍ او لوړه کچه له ناروغ کس څخه نورو ته خپرېږي. د هغو ناروغانو چې د خپلې کورنۍ له غړي څخه پر دغه وایروس اخته شوي، ۷۵٪ یې د لومړي کس پر کرونا وایروس له اخته کېدو ۵ ورځې وروسته پر دغه ناروغۍ اخته شوي دي. څېړونکي وايي چې کرونا وایروس په ډېرې چټکۍ سره د خپلوانو تر منځ خپرېږي، چې له همدې امله د خپلې کورنۍ نورو غړو د خوندیتوب لپاره هم باید ډېر احتیاط وشي. د څېړونکو په وینا، که په یوه کورنۍ کې څوک پر کرونا وایروس اخته شي، نو لږ تر لږه د خپلې کورنۍ ٥۰٪ نور غړي پر دغه وایروس اخته کوي او د وایروس د خپرېدو دغه عمل په ډېرې چټکۍ سره تر سره کېږي. د دې څېړنې څېړونکي وايي چې خلک اکثره له کور څخه بهر ماسک اغوندي او ټولنیز واټن ساتي، خو کور کې د ننه هېڅ ډول احتیاط نه کوي چې له همدې امله که چېرې د کورنۍ کوم غړی پر دغه وایروس اخته شي.

## پوکو راتلونکې اونۍ خپل نوی ځیرک موبایل معرفي کوي



د شیاومي کمپنۍ یوه څانګه، پوکو غواړي چې راتلونکې اونۍ خپل نوی ځیرک موبایل وړاندې کړي. پوکو کمپنۍ په تېره بیه ډېر پیاوړې ځانګړنې لرونکي ځیرک موبایلونه وړاندې کوي. اوس پوکو کمپنۍ غواړي د نومبر په ۲۴مه خپل پوکو ایم۳ نومی ځیرک موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړي، خو له اوس څخه د دغه ځیرک موبایل تصویرونه او ځینې ځانګړنې افشا شوې دي. د دغه ځیرک موبایل د شاتنیو کامرو جوړښت د نورو ځیرکو موبایلونو په پرتله ډېر مختلف ډیزاین لري. د افشا شویو معلوماتو پر بنسټ، دغه ځیرک موبایل به ٦,٥۳ انچه فول ایچ ډي پلس ریزولوشن لرونکې مخپاڼه ولري. پوکو ایم۳ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ٦٦۲ ډوله پروسېسر، ۴ ګیګابایټ رم او ٦۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکېستره بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۸ واټ چټک چارج څخه د ملاتړ وړتیا لري. شاتنۍ برخه کې ۳ کامرې لري چې ۴۸ مېګاپکسله اصلي کامره په کې شامله ده. که څه هم د دغه ځیرک موبایل د بیې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو اټکل کېږي چې بیه به یې د پخوا په څېر او د پوکو اېکس۳ په پرتله ټیټه وي.


عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515